مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهاند دوکتور م.ا. زیار

۲۰۱۸/۱۰/۰۹

# اورشیندي غرونه

راووري دي د يادو بارانونه کله کله
راځبني د ميني تږي ارمانونه کله کله
د وروځو خيال که هېر رانه مسجد محراب ممبر کړل
کړي هر مين مومن دا ګناهونه کله کله
که دوست دښمن ښه بد وايي ما تاته په دي چم کي
يو بل ته سره وايو به رازونه کله کله
چي ګډ شي په تولي کي د ساډوبو لېونيانو
نصيب د چا مين شي داوياړونه کله کله
که تورو برېکو يي بن را زمول تالا ترغی کړ
راسپړي پسرلي هم خزانونه کله کله
تر صور د اسرافيل چي خوبولي پاتي نه شو
په کار دي، زندانونه-زنځيرونه کله کله
دا ډېرې چوپي خولي به نن سبا راوړي ځمکرېږدي،
راځي پر غرغنډو اورشيندي غرونه کله کله!!!

اکسفورډ - ۶ اکتوبر ۲۰۱۸


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ